United Nations
Assistance Mission in Afghanistan

**د افغانستان د وضعیت په اړه امنیت شورا ته د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د ځانګړې استازې روزا اوتنبایوا بیانیه**

**نیویارک، ۱۸ سپتمبر ۲۰۲٤**

د بهرنیو چارو آغلې وزیرې [تانجا فجون]

د افغانستان د مخ په زیاتیدونکي پیچلې وضعیت په اړه د نن ورځې مهم بحث کې زه ستاسو د شخصي حضور څخه مننه کوم.

واک ته د طالبانو له رسیدو څخه درې کاله وروسته، په ټول افغانستان کې ملیونونه خلک ګډ احساسات لري. بل لور ته د وسله والو شخړو د پای سره سم داسې ثبات را منځته شوی چې په لسیزو کې یې ساری نه و لیدل شوی.

دې د لسیزو جګړو تر ټولو بدو سرغړونو ته یې د پای ټکی ایښی او د مثبتې سولې لپاره یې فرصت رامنځته کړی. د اقتصاد، زیربناوو او بهرنیو اړیکو په برخو کې یو لړ مثبت ګامونه اخیستل شوي چې له دې فرصت څخه ګټه پورته کړي او د جګړې د ډېرو بدمرغه میراثونو د حل لپاره کار پیل کړي. په هرصورت، زه سخته اندیښنه لرم چې دا فرصت له لاسه ورکول کیږي. د نړیوالو مرستو په کمیدو سره د افغانستان وګړي له جدي بشري او پرمختیایي بحران سره مخامخ کېږي. واکمن چارواکي په داسې پالیسیو سره دا بحران لا پسې زیاتوي چې د خلکو اصلي اړتیاوو ته پوره پام نه کوي او اقتصادي ظرفیت یې کمزوری کوي. او د حاکمو چارواکو او نړیوالې ټولنې د مهمو سکټورونو ترمینځ د توقعاتو او بې باورۍ روانه بې ثباتي د خپلواکې ارزونې د وړاندیزونو پلي کولو لپاره اړینې ډیپلوماټیکې هڅې له سرعت څخه بې برخې کوي.

زه ډیره اندیښمنه یم چې د ۲۰۲۴ د افغانستان د بشردوستانه غبرګون پلان یوازې ۳۰ سلنه تمویل شوی، چې د درې ملیارد ډالرو څخه یوازې ۹۰۰ ملیون ډالر ترلاسه شوي دي. لکه څرنګه چې موږ د کال وروستۍ ربع ته نږدې کېږو، داسې نښې نشته چې د پام وړ اضافي سرچینې به چمتو شي. د تیر کال برعکس، د پاتې بودجې د ورکړې په تداوم هم باور نشته. په واقعي او ریښتیني ملاتړ کې د پام وړ کموالی راغلی.

د بیلګې په ډول:

- ۲۶۰ ثابت او ګرځنده روغتیايي تاسیسات چې لومړني روغتیايي خدمتونه یې وړاندې کول، بند شوي چې ۲.۹ میلیون خلک یې اغیزمن کړي. امکان شته چې په راتلونکو میاشتو کې ۱۷۱ نور روغتیايي تاسیسات هم وتړل شي.

- نږدې ۹۰۰،۰۰۰ ماشومان به د درملنې اړتیاوو ته لاسرسی ونلري. چې د صحتمندو ماشومانو په پرتله به ددې ماشومانو د مړینې احتمال دولس واره زیات کړي.
- په هغو ټولنو کې چې دمخه د لوږې بیړنۍ کچې سره مخ دي د خوراکي توکو راشن به له ۷۵ څخه تر ۵۰ سلنې پورې راټیټ شي. دا په ځانګړې توګه ښځې او ماشومان اغېزمنوي، چې د عمومي خوراکي مرستو ۸۰ سلنه ګټه اخیستونکي جوړوي.
- د ماین پاکۍ شپږ پروژې به دوه ته راټیټې شي. یوازې دوه بسپنه ورکوونکي په افغانستان کې د ماین پاکۍ د بشردوستانه پروګرامونو ملاتړ کوي، په داسې حال کې چې څلور میلیونه خلک د ناچاوده توکو د ککړ چاپېریال په یو کیلو مترۍ کې ژوند کوي. د چاودیدونکو توکو د تلفاتو ۸۶ سلنه ماشومان جوړوي.
- په لویدیځه سیمه کې د تېر کال د څو زلزلو له امله له ۱۶۰،۰۰۰ څخه ډیر خلک اغېزمن شوي او په سختو شرایطو کې ژوند کوي. ښځې، ماشومان، معلولیت لرونکي خلک او بوډاګان په ویجاړو شویو کورونو کې ژوند کوي چې د ساختماني پلوه ناامنه دي، دوی د نورو طبیعي پیښو سره مخامخ دي.
- په تیرو دولسو میاشتو کې تر ۷۴ سلنه کلیوالي ټولنو وچکالۍ تجربه کړې، چې د ښځو او ماشومانو په ګډون، په هغو سیمو کې نږدې ۵ میلون خلک پاکو اوبو ته لاسرسی نلري.

د ژمي په را رسیدو او له ګاونډیو هېوادونو څخه د سلګونو زرو نورو بې اسنادو افغانانو احتمالي راستنېدل به دغه شته ستونزې نورې هم زیاتې کړي. افغانستان کې د ځوانانو د نفوس د چټکې ودې له امله به بشري ناورین ډیر ژر په یوه پراخ بحران بدل شي، یو داسې اقتصاد چې د دوی د جذبولو توان نلري، او د نیمايي نفوس په حرکت او فعالیتونو په پراخه کچه د بندیزونو له امله نړیوال تمویلونکي نه غواړي پرمختیايي مرستې چمتو کړي.

آغلې مشرې،

واکمن چارواکو به دومره نړیوالو خیریه مرستو ته اړتیا نه لرلی که دوی د خپل ټول نفوس سرچینې خلاصې او ګټه یې ترې اخیستې وای. په دې وروستیو کې ما د افغانستان ځینې سویلي ولایتونو ته سفر وکړ. ما له یوې میرمنې سره ولیدل چې یوازې یې لوستل زده کړي وو او راته یې وویل چې د هغې د زده کړې یوه لویه ګټه دا ده چې پوهیږي په غلطۍ سره یې خپلو ماشومانو ته له وخت تېر درمل ورکول. په ورته وخت کې، اساسي بشري اړتیاوې نه پوره کیږي. خلک د فصلونو لپاره اوبه نه لري، په ځانګړې توګه د کوکنارو پر کښت د بندیز وروسته. ما دا بدبختۍ په خپلو سترګو لیدلي او له خلکو سره مې خبرې کړې دي. موږ به د ټولو افغانانو له حقونو څخه په کلکه دفاع ته دوام ورکړو او د هغوی د اړتیاوو د پوره کولو لپاره به د لازمو مرستو غوښتنه کوو.

په عین حال کې، مونږ هڅه کوو چې د افغانستان د اوږدې جګړې څخه په میراث پاتې سیاسي شخړو ته حل پیدا کړو.

دا مهال افغانستان له نړیوالې ټولنې څخه بیل شوی دی. طالب افراد، چې ډیری یې واکمن وزیران دي، تر بندیزونو لاندې دي او د دې شورا له اجازې پرته سفر نشي کولای. د افغانستان د مرکزي بانک شتمنۍ کنګل شوې دي، چې د خصوصي سکټور د پراختیا ظرفیت یې محدود کړی دی. او حاکم چارواکي په څو اړخیزو ادارو کې هیڅ استازیتوب نلري.

ملګرو ملتونو په تېره جولای میاشت کې د دوحې دریمې غونډې ته واکمن چارواکي راوبلل. دې غونډې غړو هیوادونو ته یو فرصت برابر کړ چې د یو لړ اندیښنو په اړه د حاکمو چارواکو سره نیغ په نیغه خبرې وکړي. د پرانستې عمومي غونډې په ترځ کې د بشري حقونو په ګډون پر ټولو مهمو مسایلو خبرې وشوې. له کابل څخه راغلي پلاوي د نړیوالې ټولنې اندېښنې په لوړ غږ واورېدې او ورته د ځواب ویلو فرصت ورکړل شو.

په دوحه کې د ډیرو نورو ځانګړو استازو په څېر، زه په غونډه کې د ټولو اړخونو رغنده ګډون وهڅولم. د دوحې غونډې ځانګړو استازو ته د ښځو په ګډون د افغانستان د مدني ټولنې له غړو سره د خبرو فرصت برابر کړ.

موږ هیله مند یو چې دا به د خپلواکې ارزونې د سپارښتنو سره سم د یو ډیر معنی لرونکو خبرو د نوي باب لپاره د ښه پیل نښه وي. خو د دوحې له غونډې لږ وروسته د اخلاقي څارنې قانون تصویب هغه باور کمزوری کړی چې موږ یې جوړول پیل کړي و. که اراده وي یا نه وي، بر افغان وګړو د ځینو سختو محدودیتونو په لګولو سره چې نړیوالې ټولنې لا دمخه غندلي دي، دا قانون د ریښتینې ښکیلتیا په اړه یو منفي سیاسي سیګنال لیږدوي – هغه سیګنال چې مونږ یې له پامه نشو غورزولی. ما دا خبره په ښکاره توګه په افغانستان کې له خپلو همکارانو سره مطرح کړې ده.

د قانون دغه مسوده د دیني عالمانو د یوې کوچنۍ ډلې لخوا د خلکو سره له مشورې پرته ترتیب شوې وه. د دې احکام په ښځو باندې شته محدودیتونه تثبیتوي او پر ښځو او د وګړو په نورو برخو اندې لا نور نوي محدودیتونه ورزیاتوي. دغه قانونو واکمن امر باالمعروف ونهی عن المنکر وزارت ته د پلې کولو پراخه او اختیاري واکونه ورکوي. د تطبیق راهیسې، دغه قانون لا دمخه د افغانستان د خلکو په منځ کې د پام وړ اندیښنو لامل شوی دی. زما همکاره، سیما بهوس، د ملګرو ملتونو د ښځو اجراییه رییسه به د دې قانون د اغیزو په اړه نور جزئیات وړاندې کړي. اجازه راکړئ ووایم چې دا قانون ممکن په ښځو باندې غیر متناسب اغیز ولري. یوناما لا دمخه د کار کولو لپاره راډیوګانو ته د ښځو د مخنیوي، د موټر چلوونکو له لوري له د کور څخه د نارینه پرته ښځو ته د ټرانسپورټ برابرولو څخه انکار او د کار ځای په جلا کولو او د جامو قوانینو د سخت تطبیق په اړه راپورونه ترلاسه کړي دی. یوناما به ددې قانون تطبیق او تنفیذ په دقیقه توګه وڅاري.

حقیقت دا دی چې دغه مقررات ځکه ستونزمن دي چې د بحث له ساحې بهر دي. دا په دې مانا ده چې په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د بشپړ بیا یوځای کیدو پر وړاندې یو له سترو خنډونو څخه په اړینو خبرو اترو نه ګډون کول دي.

زه د اسلامي همکارۍ سازمان څخه مننه کوم چې له واکمنو چارواکو سره دوامداره خبرې اترې ترسره کړي دی. زه د کامرون په یاوندي کې د بهرنیو چارو وزیرانو د وروستۍ سرمشریزې اعلامیې یادونه کوم چې "د ښځو، ماشومانو، توکمونو، مذهبي او نورو کلتوري لږکیو په ګډون د ټولو افغانانو بشري حقونو ته د بشپړ درناوي په ارزښت ټینګار کوي." دا خبرې اترې باید داسې دوام ومومي چې د اسلام او د نړیوالې ټولنې د نړیوالو ارزښتونو ترمنځ هیڅ ټکر رامینځته نشي.

د واکمنو چارواکو سره په خبرو اترو کې ډیری وخت په ما له دې امله نیوکې کېږي، چې ګویا زه ددوی په باور د افغانستان د وضعیت په اړه منفي او غلط راپورونه ورکوم. هر هیواد ستونزې لري. هیڅ حکومت نه شي کولای دغه ستونزې په نه پام کولو سره حل کړي. ما له واکمنو چارواکو څخه غوښتنه کړې چې زموږ نظرونه په ښه نیت او د افغانانو په خاطر ومنی چې د خپل راتلونکي په اړه له کړاوونو څخه تشویش لري.

دغه راز نړیواله ټولنه له افغانستان څخه د تروریزم د راڅرګندیدو په باب د واکمنو مقاماتو له انکار سره سره معقولې اندېښنې لري. د بندیزونو د څارنې د ډلې وروستی راپور د افغانستان په خاوره کې د هغو تروریستي ډلو د شتون په اړه اندېښنو ته اشاره کوي چې د افغانستان ګاونډیانو ته مستقیم ګواښ پېښوي. د فرمانونو د پلي کولو په موخه د اجراییه ریاست بهر وروستی برید چې لږ تر لږه اووه کسان یې ووژل او تر ۲۰ ډېر نور یې ټپیان کړل، د دې یادونه کوي چې په افغانستان کې دننه تروریستي ګواښ نه دی لیرې شوی. د تېرې پنجشنبې په ورځ په مرکزي افغانستان کې، ISKP یو برید ترسره کړ چې د هزاره شیعه ټولنې لږترلږه ۱۴ غړي یې ووژل. موږ باید د دې ګډې اندیښنې د حل لپاره یو مناسب میکانیزم پیدا کړو.

په ډېرو مواردو کې، واکمن چارواکي وايي، د دوی لاسته راوړنې له پامه غورځول شوي او په افغانستان کې اوسنیو نړیوالو محدودیتونو د حکومتولۍ نوره هم ستونزمنه کړې. خو غیر ضروري سختې تګلارې او د سرچینو تخصیص چې د خلکو د اړتیاوو پر ځای تر ډېره د امنیتي اندېښنو په لور متوجه بریښي، دغه لاسته راوړنې او د افغانانو هوساینې ته زیان رسوي.

له دې سره سره، موږ د دوحې په دریمه غونډه کې پر موافقه شوې اجنډا او د یوناما د ماموریت پلي کولو ته ژمن یو، چې په کې د افغانستان په اړه د نړیوالې اجماع پیاوړي کول، د موافقو کاري ډلو جوړول، د ښکیلتیا د ټولو چینلونو ساتل، افغانستان د نړیوالو مکلفیتونو د سرته رسولو او له افغان ولس سره هر ډول ممکنه مرسته کول شامل دي.

مننه اغلې مشرې

Press contact: spokesperson-UNAMA@un.org

Website | Twitter | Facebook English | Facebook Pashto | Facebook Dari | Instagram | Flickr